AL-AASAR Journal
Quarterly *Research Journal*
www. al-aasar.com/

Vol. 2, No. 1 (2025)

Online ISSN: 3006-693X

Print ISSN: 3006-6921

THE CONCEPT OF PATRIOTISM IN THE POETRY OF RAHMAT SHAH SAIL

د رحمت شاه سایل پۀ کلام کښې د وطنیت تصور

* Kashif Ali, M. Phil Scholar, Pashto Department, Abdul Wali Khan University, Mardan, Khyber Pakhtunkhwa.

** Dr. Shukria Qadir, Assistant Professor, Pashto Department, Abdul Wali Khan University, Mardan, Khyber Pakhtunkhwa.

Abstract

Rahmat Shah Sail, born in 1943 in the village of Wartier, Dargai, Malakand, Pakistan, is a distinguished Pashto poet and political activist. Belonging to the Utmankhel tribe, he is renowned for his contributions to Pashto literature and his advocacy for Pashtoon rights.

Due to financial constraints, Sail left school after the 4th grade to support his family. Despite limited formal education, he developed a profound interest in reading magazines and newspapers. After laborious days working as a tailor in Dargai Bazaar, he composed poetry to alleviate his fatigue.

Sail's poetry encompasses themes of simplicity, love, depth, romance, and revolutionary ideas. Some of his notable works include.
In addition to his literary pursuits, Sail serves as the chief editor of "Pashtun Magazine," published by the Bacha Khan Centre.

His work continues to inspire and influence Pashto literature and the broader cultural landscape.

- Sail has actively advocated for Pashtun rights and cultural preservation, often reflecting these ideals in his poetry.
- He serves as the chief editor of *Pashtun Magazine*, published by the Bacha Khan Center, a platform promoting Pashtun heritage and values.

Rahmat Shah Sail remains a pivotal figure in Pashto literature, inspiring countless readers and writers with his eloquence and commitment to social causes.

Keywords: Literature, Pashtoon rights, Education, Poetry, romance.

AL-AASAR Journal
Quarterly Research Journal
www. al-aasar.com/
Vol. 2, No. 1 (2025)
Online ISSN: 3006-693X
Print ISSN: 3006-6921

انسانان چې په نړۍ کښې څومره څومره ګڼ شوي دي نو هومره په مختلف نسلي ډلو کښې تقسيم شوي دي - دغه نسلي ډلې په اصل کښې د قوم څخه معنه لري - لکه څنګه چې په قران مجيد کښې خدائے پاک هم وائي چې :

"يٰٓاَيُّهَا النَّاسُ اِنَّا خَلَقْنٰكُمْ مِّنْ ذَكَرٍ وَّ اُنْثٰى وَ جَعَلْنٰكُمْ شُعُوْبًا وَّ قَبَآىِٕلَ لِتَعَارَفُوْاۚ"[1]

اے خلقو ما ته د سړي او د ښځې څخه پيدا کړئ او په مختلفو ښاخونو او
قبيلو کښې مې ووښلئ چې تاسو وپېژندې شئ"

دغه پېژندګلو په اصل کښې هر قام ته په فطري توګه باندې د خپلې مخصوص جغرافيې واک او په دغه واک کښې د ژوند بقا ساتل دي - دغه بقا چې د کومو اصولو لاندې ساتلې کېږي دغه ډله په اصل کښې قام بللے شي - چرته چې قوم په وجود کښې راشي هلته ضروري ده چې دغه قوم شريکه جغرافيه لري - د دې جغرافيې د دفاع د پاره او د دې د اوسېدونکو د پاره چې په مشترکه توګه باندې کومې هلې ځلې يا هر عمل ترسره کېږي دغه جذبې ته قامپرستي وئيلې شي - نېشنلېزم چې په پښتو کښې يې مونږ د قوميت يا قاميت په نامو پېژو چې دا د يو قام د ژوند د ژغورنې يوه داسې لار ده چې په کومه لاره د يو قوم د هر قسمه راتلونکې پېښو او سختو کړمو نه، نه صرف بچاؤ کښېږي بلکې د يو قام د پرمختيا او ترقۍ سبب هم ګرځي خو په دې د ځان پوهلو نه وړاندې غواړو چې اول د قام وضاحت وکړو چې قام اخر څۀ وي او بيا به د قوميت په اړه راشو چې قوميت څۀ ته وائي - نو که د قام طرف ته راشو او وګورو چې قام څۀ وي نو د دې په اړه زمونږ سره مختلفو ليکوالانو خپلې مختلفې رائې راوړي دي چې پکښې هر يو تقريبا د قام تعريف په ډېرو ښو ټکو راوړي خو که مونږ په دغې ټولو تعريفونو کښې د استټالن تعريف ته پام وکړو نو د هغوي لخواه شوے تعريف زما په نزد د نن دور مطابق او ډېر جامع خو اعلی دے چې دغه تعريف هغوي په خپل کتاب کښې څه داسې کوي:

"قوم انسانوں کے ایک ایسے پائدار مضبوط گروہ کا نام ہے ، جس کے ارتقاء و عروج میں تاریخ نے ہاتھ بٹایا ہو اور جس کے اندر اشتراک زبان،اشتراک ارض،اور اشتراک معاش پایا جاتا ہو اور ساتھ میں ہی اس کی نفسیاتی ساخت بھی ایک ہی سہی ہو---وہ نفسیاتی ساخت جس کا اظہار تہذیبی اتحاد و اشتراک کی صورت میں ہوتا ہے ۔[2]

د ستټالن د دې تعريف نه مونږ په دې نتيجه رسو چې د يو قوم دپاره څه مخصوص لازمي توکي يا لوازمات دي چې د دې ټولو لوازماتو په تناظر کښې مونږ د قوم تعريف په دې ټکو کښې کولے شو چې قوم د يو هاغه ګروه/ ډله/ ټولګے وي چې به شريک ځائې، معاش، ژبه او شريک نفسيات لري - په دغه شريک توکو کښې دغه جغرافيه په اصل کښې د دغه وګړو وطن وي او د دغه وطن سره مينه د نفسياتو يوه باقاعده برخه وي لکه څه رنګ چې خوشحال خان بابا فرمايلي دي چې :

AL-AASAR Journal
Quarterly Research Journal
www. al-aasar.com/
Vol. 2, No. 1 (2025)
Online ISSN: 3006-693X
Print ISSN: 3006-6921

"د وطـــــــــــــــن مينـــــــــــــــه اے جانـــــــــــــــه
راپيـــــــــــــــدا ده د ايمانـــــــــــــــه"[3]

دا يو کوتلے حقيقت دے چې د وطن مينه يوه داسې مينه ده چې په هر انساني مزاج او خټه کښې د ابتدا نه نغښتې او اخکلې شوې ده چې د دغې مينې په ثبوت کښې مونږ د نړۍ د مختلفو قامونو نه مثالونه اخيستې شو که د مشرق دي ، که د مغرب دي او که د شمال ، که د جنوب خو خبر هاغه ځانله بحث دے دلته موضوع زمونږ چونکې د رحمت سايل د غزل د قام پرستۍ له لوري جايزه کښې د وطنيت تجزيه ده نو را به شو د سايل غزل ته د سايل شاعري په مجموعي توګه او غزل په عمومي توګه زمونږ سره د قام پرستۍ د دې اهم توکي چې وطنيت نومبړي چې دا د يو قام د ژوند ژواک او رهن سهن يو مسکن وي ، که مونږ د سايل غزل ته زير شو نو هسې خو لکه څنګه چې مونږ په تېرو کرښو کښې وئيلي دي چې د سايل اسلوب څه دا رنګه دے چې سايل په خپلو اشعارو کښې په يو وخت د دوه شيانو امتزاج راولي چې په دغو کښې يو رومان او بل قام يا قام پرستي ده ، نو که دلته مونږ د سايل د وطنيت په اړه د غزل په اړه راځو نو د هاغو په شاعرۍ زياتره هم د دغې امتزاج مثالونه راځي لکه چې وائي :

"پېښـــــــــــــــور او کابـــــــــــــــل دواړه دوه يـــــــــــــــاران دي
لکـــــــــــــــه دوه ســـــــــــــــترګې پـــــــــــــــه يـــــــــــــــو مـــــــــــــــخ د جانـــــــــــــــان دي[4]

نو تاسو دلته فکر وکړئ چې څومره په بهترين انداز د رومان په ژبه د قام او د وطنيت خبره شوې چې پکښې که يو طرف ته د جانان د دواړو سترګو ذکر وړاندې راځي نو بلخواه پکښې د پښتون قاميت او د وطنيت د واضح کولو موقف وړاندې راځي - د دې نه علاوه د سايل په غزل کښې په نورو ځايونو کښې هم د وطنيت خبره وړاندې راځي چې پکښې يو ځائې څه داسې ګويانه دے چې داسې وائې چې :

"ټول ښائست د دې ټولې دنيا په پښتونخوا کښې دے
يو نه يو جنت خو خامخواه په پښتونخوا کښې دے"[5]

د وطن پرستۍ د مينې اثر پۀ هره اب و هوا کښې پۀ فطري توګه باندې موجود وي - د دنيا هر يو ژوند کونکے چې پۀ کوم ماحول کښې هم پېدا شي نو هم هغسې رنګونه خپلوي - تردې چې ځنې ځناور خو پۀ فطري توګه داسې جغرافيو کښې پېدا وي چې د هغوي هارمونز ورسره هم هغه شان عادت شوي وي - کۀ دغه ځناور د دغه مخصوص يا خپلې جغرافيې نه رالر کړې نو هغه ژوندے نۀ پاتې کېږي د دې مطلب دا شو چې بعضې ژوند کونکو د پاره د هغوي هغه ماحول هم جبلت وي کوم کښې چې دوي پېدا شوي وي - لکه د سائبېريا ځناور کله هم د عرب پۀ شګلنو صحراګانو

AL-AASAR Journal
Quarterly Research Journal
www. al-aasar.com/
Vol. 2, No. 1 (2025)
Online ISSN: 3006-693X
Print ISSN: 3006-6921

کښې ژوند نۀ شي کولې هم دغسې د عربو د شګلنو سيمو ځناور کله هم پۀ سائبېرين يخو علاقو کښې ژوند نۀ شي کولې - انسان څۀ قدرې پۀ دغه حواله باندې بدل دے ولې چې انسان خپل ځان د هر قسمه ماحول او اب هوا سره پۀ شعوري توګه اېډجسټ کولې شي خو پۀ لاشعوري توګه هغه خامخا پۀ څۀ نۀ څۀ شکل د خپل وطن ارمان کوي يا پۀ دې پسې خفګان خامخا کوي - ځنګه چې ما اول د خوشحال شعر راوړو چې وائي چې «د وطن مينه د ايمان برخه ده» اصل کښې دغه ايمان فطرت دے - د دنيا لوئي لوئي فلسفيان، دانشوران او شاعرانو چې کله ټوله دنيا ليدلې ده نو د خپل وطن ارمان ئې خامخا کړے دے - خو کۀ دغه د دوي وطن د نورې دنيا پۀ نسبت پسمانده ولې نۀ وي لکه دلته د غني خان د سېل نظم برخه پېش کؤم چې وائي :

"ما ليدلي د يورپ ښکلي ښارونه
چې د لاندې تړې غورځنګ وهي سيندونه
ما ليدلي محلونه د لندن
جينکې مستې ازادې ګلبدن
ما ليدلي د اټلي ښائسته ښارونه
سرۀ انګور سرۀ ئې شراب او سرۀ ګلونه
خو چې ووينم دا خپل د ختې کور
رانه هېر شي محلونه ښائسته نور
دا نرۍ تنګې کوڅې زما د کلي
ورته څۀ دي د دنيا ښارونه ښکلي
پۀ ولله چې د جنته به شم ستون
کۀ کنځل پکښې واو نۀ رم د پښتون"[6]

د غني خان دغه احساس به هسې ماده پرستو خلقو ته يوه ټوقه ښکاري خو پۀ دي څوک پوهېږي چې د انسان د پاره تر هر څۀ غوره څۀ بلډينګونه پېسې يا نورې عياشۍ نۀ دي بلکې ذهني سکون دے او دغه سکون چې هر څنګه و بايد انسان ورته رسائي ولري خو د ډېر خلقو دغه احساس د هغوي پۀ ماضي کښې وي دغه ماضي د دۀ د کليو لاړو کوڅو سره تړلے شوے وي - هم دغه احساس رحمت شاه سايل هم د خپل وطن پۀ حقله استعمال کړے دے لکه وائي چې :

AL-AASAR Journal
Quarterly Research Journal
www. al-aasar.com/
Vol. 2, No. 1 (2025)
Online ISSN: 3006-693X
Print ISSN: 3006-6921

"ته يې سحر وائې زۀ ئې شپه هم غنيمت ګڼم
داسې څه جادو خو په والله په پښتونخوا کښې دے
شکر دے سايل شاعر د خپلې ورکې ژبې دے
شکر په دې هم دے چې پيدا پښتونخوا کښې دے"[7]

دغه پښتونخوا ده چې سايل ئې پۀ مېرټون هم خوشحال دے او وائي چې کۀ زۀ پۀ هر حال کښې يم خو چې پښتون يمه نو خوشحاله يم- د وطن سره د مينې بل اظهار د دې نه نور څنګه کېدې شي لکه سايل وائي چې !

خوښ د پښتونخوا پۀ مېرټون يمه پښتون يمه
خاورې به مې وائي چې پښتون يمه پښتون يمه

سايل وائي چې ما د خپل وطن او خپلې خاورې سره دومره مينه وکړه چې کۀ زۀ مړ هم يمه نو هم زما خاوره به زما ګواهي ورکوي چې زۀ د وفا تخم يم- لکه دا شعر چې :

"مړ به يم خو هر د زړۀ پرهر به مې خندا کوي
زۀ د وفا تخم يم ژوندون يمه پښتون يمه"[8]

عام اولس ته دغه احساس نۀ کېږي چې د دنيا لوي طاقتونه ټوله دنيا پرېږدي نو زما دې خړې خاورې ته څۀ له راشي چې دلته زما سياستمدار، زما ملا او زما فوځي پۀ روپو واخلي او يو ډرامه باز جنګ ونخښلي - د دې جنګونو وجوهات د سايل پۀ ژبه ډېر پۀ رومانې انداز کښې بيان شوي دي چې وائي :

"دا چې دې همه دنيا زۀ وخت پۀ وخت لوټلے يم
ښکلے يمه خوږ يمه ترسکون يمه پښتون يمه"[9]

پۀ اصل کښې دې مذکوره شعر کښې سايل ځان نۀ يادوي چې زۀ داسې يمه بلکې پښتون او پښتون وطن يادوي چې يو خوا ښکلے دے هر قسمه اب وهوا پکښې موجوده ده نو بلخوا د وسايلو ډک دے - خو سايل بيا د ځان ساتنې پۀ جبلت باندې هم پۀ غېر شعوري توګه باندې پوهه دے - د ځان ساتنې پۀ حواله سايل خپل پښتون خوئي له د قارون د شمتوب سره پۀ ډېر رومانې انداز کښې تشبيه ورکوي وائي چې !

AL-AASAR Journal
Quarterly Research Journal
www. al-aasar.com/
Vol. 2, No. 1 (2025)
Online ISSN: 3006-693X
Print ISSN: 3006-6921

"سود مې پۀ بل نۀ شي خپله يو بڅرې خاوره هم
زۀ ګوره پۀ حقله قارون يمه پښتون يمه"[10]

د رحمت شاه سايل په غزل کښې نور هم داسې اشعار شته چې د کوم نه مونږ ته د هغوي د وطنيت سره د پوخ تړون اندازه کښېږي چې دغه اندازه تاسو د دې غزل نه لګولے شئ په کوم کښې چې د ټول غزل موضوع د وطن، خلقو او مشاهيرو راغلې ده ، لکه چې وائي :

"وطن ته ځم په شونډو الواني سندرې وړم
د وريت زړۀ په مجم کښې سپيلني سندرې وړم

سپرلي او د کاروان او توپاني سندرې وړم
ګل دښتو ته د ژوند د جهاني سندرې وړم

ځم دښتو ته د ژوند د يو نوے اور ور لګوم
د ځان سره د عمر ارماني سندرې وړم

کاڅه د مات رباب د ملنګ جان په څلي ږدم
ناشناس له د ايوب د ليونې سندرې وړم

نغمه ده بخت زمينه کله ګلنار کله قمر ګله
هم دوي له د خاطر بيابانې سندرې وړم

چې ونغاړي هر بنار پخپلو ټولو تماشو کښې
کابل او قندهار ته هلماني سندرې وړم

زما د ناز ولي وطن ټول اولس غمژن دے
په سوز کښې ورله نغښتے لاڼانې سندرې وړم

AL-AASAR Journal
Quarterly Research Journal
www. al-aasar.com/
Vol. 2, No. 1 (2025)
Online ISSN: 3006-693X
Print ISSN: 3006-6921

سپوږمۍ سره د ستورو هر انګن ته رابلم
هر کور هري کوڅې ته اسماني سمدري وړم

سایل خو هري پښتو ده د حالاتو سره کړې
حجرو ته بڼه ئې وړم چې افغاني سندري وړم"[11]

که مونږ د سایل یادو شعرونو نه ته پام وکړو نو بلکل په ډېر واضحه توګه مونږ ته د دوي د غزل نه دا راڅرګندېږي چې د سایل د غزل د قام پرستۍ دې مهم جز یعنې وطنیت یا وطن پرستي نه ډک دے او د قامي شاعرۍ جواز جوړېږي۔
سایل د ملاکنډ دے او ملاکنډ هغه دنګ او تاریخي غرور لري چې خوشحال خپل اس ته هم په دې ختو د همت تلقین کړے دے ۔ د وطن پرستۍ په عناصر کښې دا هم شامل وي چې یو شاعر د دغه وطن غرونه سیندونه او ځنګلونه یادوي ۔ سایل د ملاکنډ په حقله وائي چې !

"د ملاکنډ باده پۀ تول پښتون وطن والوڅه
زما پېغام زما نه ورک دلبر ته ورسوه

نوم د پښتون به دې اسمانه پۀ تندي لیکمه
سپوږمۍ ته ووایه خبره نمر ته ورسوه"[12]

خوشحال چې په رنتبور کښې د پښتنو جونو شمال یادۀ او د خوړې پلوسې ئې یادولې نو دغه په اصل کښې د وطندوست سره د وطن احساس وي ۔ سایل کۀ یو خوا د پښتون وسایلو زکرکوي او وائي چې کۀ دا وسایل زما په کار نۀ راځي نو په دې اور لګول غواړي ولې چې سایل غوندې وطندوسته دا احساس لرلے شي د اباسین اوبۀ یا د پښتونخوا تول سیندونه په اصل کښې د پښتنو دي خو په دې مزې نور قامونه کوي سایل په دغه حواله وائي چې !

"مونږ تېرې ځنبې نۀ شو اغیار ورپکښې لامبې
دا سیند کۀ اباسین شي په دې اور لګول غواړي"[13]

AL-AASAR Journal
Quarterly *Research Journal*
www. al-aasar.com/
Vol. 2, No. 1 (2025)
Online ISSN: 3006-693X
Print ISSN: 3006-6921

هم پۀ دغه تسلسل کښې سایل د خپل پښتون احساس پۀ زور باندې سوات، چترال، ننګرهار او دغسې د وطن ګېر چاپېره علاقې پۀ ډېر ښکلي انداز کښې پۀ شعر کښې ستایلي دي دلته د وطن دوستی ـ پۀ سلسله کښې د سایل غزل دغه رنګه شعرونه راوړم چې !

"ملګرو سم رانېږے سوات رانېږے تول زما دے
زړۀ مې پرې خور وور دے دا وران زړۀ پرې راتول زما دے

سوات د سواتیانو او بونېر د بونېریانو صحي
خو دا رېدے دغه نرګس دغه غانتول زما دے

ما پکښې پرېږدئ نور تري هر څۀ ځانله وتښتوئ
دا مې د خیال د دې کوڅو دغه کچکول زما دے

دغه سپرلي دغه ګلونه ګلزارونه ستاسو
خو دا د وچو دوړې دلو غنو شپول زما دے

د سوات څادر او شال د دیر د خال تۀ وپې ـ او هنر
د ګل وریځن چترال واسکټ زما پکول زما دے

د کندهار د ننګرهار او د کابل ګلونه
پکښې راوچوئ جولې ـ زما ده جول زما دے

جنګ او جګړه ژوبله او مرګ ستاسو د خوښې تکي
سایل وئ زار زما قربان زما دے ګول زما دے"[14]

وطنیت د خپلې خاورې سره د مینې علامت دے - سایل کۀ خپله خاوره هم یادوي نو پۀ داسې رومانې انداز کښې ئې یادوي چې د خاورې تاریخ هم نۀ مسح کوي او د غزل باریک نزاکتونه هم نۀ خرابوي - د خاورې خاموشي، د خاورې بې وسي، د خاورې سیاسي تشنګي، د خاورې سره روان جبر، د خاورې سره تړلي شوي جمالیات، د خاورې

AL-AASAR Journal
Quarterly Research Journal
www. al-aasar.com/
Vol. 2, No. 1 (2025)
Online ISSN: 3006-693X
Print ISSN: 3006-6921

خوبان، د خاوري پسرلي، د خاوري ګلاب، د خاوري رېدي، د خاوري ازغي، د خاوري زخم او د خاوري ټکور د قامپرستي بشپړه برخه ده - کۀ د سايل ټوله شاعري د قامپرستي پۀ حواله باندې اخوا شي او صرف د خاوري پۀ حواله د هغوي د (خاوره کښې) رديف دا غزل کښنودې شي نو هم بهترين نمونه ده -

"څومره ښائست د نظر اور دے پۀ دې خاوره کښې
څومره خاموشي ده څومره شور دے پۀ دې خاوره کښې

مرم د تندې مرم خو د ژوندون اوبۀ تري څښې نۀ شم
دا جام د صدو صدو نسکور دے پۀ دې خاوره کښې

لوبې به ډېر عمر پۀ رنګونو پسرلي وکړي
داسې مې د وينو څادر خور دے پۀ دې خاوره کښې

هم پکښې زړۀ غوځ د سايل هم لکه مُسکے د ګل
خدايه څومره درد څومره ټکور دے پۀ دې خاوره کښې"[15]

د رحمت شاه سايل شعري مجموعې پنځلسو ته رسېدلې دي کۀ پۀ ځيرک نظر ئې چاڼ کړو نو د هغوي پۀ هر غزل کښې نيم شعرونه داسې دي چې د هغوي و وطنيت تصور يعنې د وطن سره مينه پکښې څرګنده ده - او دا د سايل هغه ځانګړنه ده چې د شلمې صدۍ د ستر قامي شاعرانو پۀ صف کښې ودرېدلے دے -

AL-AASAR Journal
Quarterly *Research Journal*
www. al-aasar.com/
Vol. 2, No. 1 (2025)
Online ISSN: 3006-693X
Print ISSN: 3006-6921

حوالې

[1]: القرآن، الحجرات، ایت ۱۳

2: استالن، قوم اور قومیت، ناشر، مکتبہ یوسفیہ، سن اشاعت، 2023، ص 10

3: خوشحال خان خټک، ارمغان خوشحال، مقدمه سبدالرسول رسال، یونیورستي بک ایجنسي، ۱۹۶۸، مخ ۲۴۱

4: رحمت شاه سایل، حالات چې اور وري، منګل کتاب کور، ۲۰۱۷، مخ ۵۳

5: رحمت شاه سایل، نرګس بیمار بیمار، منګل کتاب کور، ۲۰۱۸، مخ ۷۶

6: رحمت شاه سایل، نرګس بیمار بیمار، منګل کتاب کور، ۲۰۱۸، مخ ۷۶

7: رحمت شاه سایل، نرګس بیمار بیمار، دانش خپروندویه ټولنه، ۲۰۱۴، ۷۷

8: رحمت شاه سایل ، حالات چې اور وروي، منګل کتاب کور، ۲۰۱۸، مخ ۴۴

9: همدغه کتاب، مخ ۸۱

10: همدغه کتاب، مخ ۵۳

11: رحمت شاه سایل، د چینارونو نه لمبې ووتي، منګل کتاب کور، ۲۰۱۷، مخ ۱۳۵

12: رحمت شاه سایل، زهٔ د خزان د پانې پانې سره ورژېدم، منګل کتاب کور ۲۰۱۸ء، مخ ۱۱۲

13: رحمت شاه سایل، د ویر پهٔ چم کښې وار د نغمو ے، وحدت پرنټرز پېښور، ۱۹۸۸، مخ ۳۸

14: رځمت شاه سایل، ژوند او فن دواړه د یو بل پهٔ ائینه کښې دیم منګل کتابکور ۲۰۱۸، مخ ۱۸،۱۹

15: رحمت شاه سایل، د ښائستونو د سپرلي بادونه، منګل کتاب کور (شږم چاپ) ۲۰۱۸، مخ ۳۵